مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولي ارین ۲۰۲۱/۰۱/۱۲

# نړیوالي استعماري لوبې

## (افغانستان)

### لومړۍ برخه

د پورتني سرلیک لاندې مقاله کې به د بشري تاریخ، تکامل، د انسانانو پر هڅو، اړتیاوو او غوښتنو. د افغانستان پر جیوپولیتیک مو قیعیت، په هیواد کې د نړیوال استعماري ځواکونو دسیسې او دا چې ولې زموږ په هیواد کې جګړه دومره وغزیده لنډه کتنه او شننه تر سره شي.

**بشري هڅې:**

د بشري تاریخ د پرمختګ په لومړنیو پیړیو کې انسانانو هڅه کوله چې د ژوند د اړتیاوو په بسیا کولو سره د طبعیت پر ناخوالو برى و مومي او د لومړني ساده وضعیت نه ځان خلاص د پرمختګ او مدنیت په لور ګامونه اوچت کړي، نو ځکه انسانانو د مادي نعمتونو په ډیروالي او د تولیدي وسایلو په پرمختګ سره بشري ټولني ته د ترقي او پرمختګ پر لور حرکت ورکړ. بشري ټولنې ورو- ورو پرمختګ وکړ، ټولنیز نظم جوړ شو او بیا د ټولنې د کنټرول لپاره تشکیلات او حکومتونه رامنځته شوول. له بله پلوه د علم او تکنالوژۍ د پرمختګ سره انسانان وتوانیدل چې داسې وسایل تر لاسه کړي، چې د طبعي پیښو په مقابل کې له ځان نه ساتنه او دفاع وکړي او د طبعیت په ناخوالو غلبه حاصله کړي. څرنګه چې انسانان یو ډول نه دی خلق شوي، ځنې قوي، ځنې ضعیف، ځنې د استعداد لرونکي او ځنې یې لږ استعداد لرونکي، نو ځکه د حرکت په بهیر کې په ټولنه کې بد لونونه رامنځ ته شوول او بشري ټولنې په بیلا- بیلو بنو خپل ټولنیز نظامونه جوړ کړل. د ټولنې د تکامل د خاصو شرائطو له کبله انسانان په ټولنیز ژوند کې په بیلا- بیلو بنو را څرګند شول. ځنې غني ځنې غریب، ځنې عالم او ځنې بی علمه، ځنې هیواد پالونکي او ځنې بې تفاوته، نو ځکه هر دولت مجبور و چې د سیاسي نظام په جوړښت کې د ټولنې دغه تفاوتونه په نظر کې ونیسي او د هغې مطابق خپل سیاستونه جوړ کړي. څرنګه چې په بشري ټولنو کې انسانان او د هغوي تمایلات متفاوت وو، حکمتونه یې هم په متفاوته بنو جوړ شوول او خپلي سیاسي تګلارې یې جوړې کړي. د دغو هیوادونو مشرانو د اقتصادي، سیاسي او فرهنګي شرائطو په نظر کې نیولو سره خپل سیاسي او ټولنیز نظامونه په مختلفو بنو جوړ کړل. دغو حکومتونو چې ځنې یې دموکرات ځنې یې استبدادي، ځنې یې فدرال، ځنې قوي مرکزي حکومتونه او ځنې یې لبرال وو رامنځ ته شول چې د بشري تاریخ په بهیر یې لوي تاثیر درلود. یو شمیر دولتونه چې د دغو تفاوتونو پر اساس راجوړ شوول ټول یو ډول نه وو، ځنې دولتونه په دې بریالي شول چې خپل یووالي وساتي، ځواکمن اقتصادي او دفاعي قووت جوړ کړي، نه یوازې د خپل ځان نه دفاع وکړي بلکې په نورو هیوادونو هم یرغل وکړي او هغه د ځان تابع کړي او بیا دومره ځواکمن شي چې په نړۍ کې په نورو هیوادونو واک وچلوي او د زبر ځواک په توګه خپل لوړ موقف ثابت کړي لکه بریطانیه، فرانسه، هسپانیه، پرتګال، تزارى روسیه او بیا وروسته شوروى اتحاد او امریکا. د یادولو وړ هم ده چې په مقابل کې داسې هیوادونه هم وو، چې د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي پلوه یې پرمختګ و نه شو کولاى، خپل ملي یووالي یې ونه شو ساتلي په نفاق اخته شول د ځواکمنو هیوادو
د استعمار لاندې واقع شول، خپل استقلال یې له لاسه ورکړ او د نورو غلامان شول. د دغو هیوادونو مثالونه په اسیا، افریقا او لاتیني امریکا کې تر اوسه لیدل کیږی، چې افغانستان هم په دغه دله کې یادولي شو. د دغو بشري ضد



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

استعماري ځواکونو د واکمنيو د زغلولو نور ترخه مثالونه د يونان د مقدوني سکندر، د مغولي چنګيز او نورو نه را پاتې ناخوالې دي چې د نړۍ بيلا- بيل هيوادونه يې تر اوسه د خورا سترو ستونزو سره لاس او ګريوان کړي دي.
د نړيوالې دوهمې جګړې وروسته د نړۍ حالت: د دغې جګړې د ختميدو وروسته د ملګرو ملتونو سازمان جوړ او فعال شو. د بشري حقونو منشور د مستقلو هيوادونو د خود ارادیت حق د هيوادونو تر منځ رسمي پولو ته احترام د نړيوالو قوانينو رعايت په يو بل باندې تيرى نه کول د هيوادونو په سياسي مناسباتو کې متقابل احترام د ټولو هيوادونو له لورې په منل شوو وصولو بدل شول، نو ځکه د نړۍ ستر قدرتونه شوروى او امريکا مجبور وو چې د ملګرو ملتونو له منشور نه اطاعت وکړي. مګر وروسته وليدل شول چې د کلونو په تيريدلو سره نړيوال نظم د ګواښونو سره مخامخ شو. سره له دې چې په دوه قطبي نړۍ کې نسبي توازن موجود و. يوازې دواړو سترو قدرتونو هڅه کوله چې د نړۍ کمزورې هيوادونه په خپل منځ کې سره وويشي، او کمزورى هيوادونه هم اړ وو، چې د دغو هيوادونو په نړيوالو تشکيلاتو کې داخل او د ځواکمنو هيوادو غوښتنې پر ځان ومنې. د شوروى او امريکا شديد نظامي او اقتصادي رقابت د دې علت وګرزيد، چې هغوى نړۍ خپل تر منځ وويشي او يو د بل په مقابل کې نظامي پيمانونه جوړ کړي. نو ځکه د امريکا او غربي هيوادو له خوا په ۱۹۴۹ ز کال کې «ناتو» چې مرکز يې بروکسل کې و.«سيتو» د اسيا په جنوب شرق کې په ۱۹۵۴کال کې او «سنتو» چې مرکز يې بغداد و په ۱۹۵۵ کال کې جوړ شول. همدا ډول بې پرې هيوادونه مجبور شول چې د خپل مستقل سياست لپاره د بې پرې هيوادونو کنفرانس او غورځنګ جوړ کړي. چې افغانستان هم د دغه کنفرانس موسس غړى و.

افغانستان: افغانستان د اسيا په زړه کې پنځه زره کلن لرغوني تاريخ لري. دغه تاريخ د ميلاد نه څو زره کاله د مخه پيل شوي دي. د افغان نوم په لرغوني اريانا کې يو تاريخي نوم دي. ښاغلى ډاکتر خوشنظر پاميرزاد د فردوسي په شاهنامه کې څيرنه کړي ده او هغه اشعار يې را په ګوته کړي دي، چې په هغو کې د افغان نوم څو ځله اخيستل شوي دي. هغه داسې دي:

بيک سوى او دشت و چرګاه بود د ګر دشت زى هندوان راه بود نشسته در ان دشت بسيار کوچ ز افغان و لا چين و کرد و بلوچ نژادش ز افغان سپاهش هزار همه ناوک انداز و ژوبين ګذار نژادش ز اوغان سپاهش بلوچ زهر دست خرګاه بګيرند کوچ با هر يکى لشکرى صد هزار سوارو پياده بلوچان بکار هزاران سوار افغان ګروه ز لاچين دليران بر ګرد کوه رستم ګفت...

ندارم امشب ايدرز کهن مګز سوى افغان و خرګه زمين بخنديد رستم ز ګرز ګردان که اينست پيکار افغانيان چو بهزاد افغان از او اين شنفت بدو ګفت کاهريمنت باد جفت
همدا ډول په تير تاريخ کې افغانستان د سترو مدنيتونو مرکز او د اسيا زړه وو. د افغانستان يو شمير ولايتونه د شاو خوا سيمو لپاره چې اوس مستقل هيوادونه دى، پلازمينه وه. مثلا بلخ د باختر او اريائي تمدونونو مرکز وو، د غور ولايت فيروزکوه د غوريانو د لوى امپراطورئ چې تر هند پورې غځيدلى وه د ايران، هند، او ترکستان لپاره مرکز وو. بګرام د کوشانيانو مرکز، کندهار د هو تکيانو او لوى افغانستان مرکز وو، نيمروز د صفارينو او طاهريانو مرکز وو، چې ايران يې برخه وه. هرات د غور سورى او کرت شاهانو او تيمورى ګورګانينو مر کز وو. چې ايران يې برخه وه. بابر هم چې په هند کې د مغولي سلطنت موسس شو، چې د هرات د تيمورى ګورګانيانو د کورنى غړي و. غزنى د غزنويانو مرکز چې هند او ايران دواړه يې د کنټرول لاندى وو. د سرپل ولايت چې د ابومسلم خراساني مرکز و، چې د اموى سلسلې نه يې خلافت عباسي سلسلي ته انتقال کړ او داسې نور، زموږ د هيواد په تاريخ کې د افغانستان جوړيدل د هيواد د خلکو د لويو قربانيو او هڅو نتيجه ده. افغانستان زموږ د هيواد د ستر اتل او ملى رهبر احمد شاه بابا چې د پښتنو ابدالى ټبر پورى اړه درلوده، د قربانيو او فداکاريو په نتيجه کې جوړ شوى دى. نهضت نظيف الله«افغانستان او انقلاب» لومړى اونهم مخونه. همدا ډول د افغان د کليمى لرغونتيا د ښاغلى اسد سهاک لاندى ليکنى په تائيد د يادونى وړ بولم.

«مرورى به حقايق تاريخ افغانستان نويسنده: اسد سهاک

ګر چند ذکر نام افغان در تاريخ هاى باستان يونان، چين، هند و عرب صورت ګرفته است که معنى اسب سوار ماهر و رزمنده را دارد و به تمام ساکنين اين سرزمين خطاب شده است و من در سلسله تاريخ قبلا به صورت مفصل آن را توضيح داده ام، ولى اين کشف جديد از اهميت خاص برخوردار است. چونکه براى اولين بار مورخين به اسنادى دست اول از باختر قديم دستيابى مى يابند که در آن از نام افغان ذکر ګرديده است
در يک کشف اخير، نام افغان در واقع در چهار سند قطعه اى باختری يافت شده است αβαγανο ،αβγανοکه آن را به قديمى ترين ګواهينامه نام "افغان" يعنى اواخر قرن ۴ ميلادى که مطابق به اواخر دوران کوشانيان است تبديل مى کند. اين اسناد تاريخى قدمت نام افغان را تقريبا 1600 سال قبل از امروز نشان ميدهد و به نظر نمى رسد


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزى بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

که نام "افغان" از یک کلمه واقعی پشتو تشکیل شده باشد. نام افغان میتواند اصطلاحی باشد که به صورت محلی، یعنی توسط یک مردم دیگر اندو ایرانین زبان، احتمالاً به عنوان " اسم مستعار" برای همسایگان خود ساخته باشند. بدین لحاظ این یک نام قومی نه بلکه به باشندگان یک جغرافیه بزرگ نسبت داده میشود. بعد از زمان کلاسیک یعنی (post-Hellenistic) ساکنین این سرزمین بیشتر به عنوان "افغان" شناخته می شوند. امروز هم این نام به تمامی مردم شریف افغانستان اطلاق می گیرد و بدون استثنا همه باشندگان افغانستان در جهان به نام افغان شناخته میشوند.

این اولین بار است که در چندین سند قطعه ای باختری از اواخر قرن 4 میلادی

نام افغان به عنوان " افغان afġān ~ αβαγανο نوشته شده است که این گواهی تصدیق قدمت آن را می دهد

نوت: من در این قسمت از تبصره اجتناب می ورزم و به این خلاصه میکنم که، این اسناد نه تنها شواهد پرشکوهی از تاریخ باستان کشور عزیز است بلکه سیلی محکمی نیز به روی فرزندان ناخلف این مرز و بوم میباشد که آنها واژه افغان را به قرن هجدهم میلادی مربوط به دوران امپراطوری احمدشاه بابا و حتی یک تعداد دیگر آن را به دوران امیر عبدالرحمن خان نسبت میدهند و می فرمایند که این یک نام تحمیلی است و به واسطه انگلیس ها ساخته و گذاشته شده است وبی شرمانه برای خوشی بادران خارجی خویش ازتاریخ کشورخویش وهویت ملی خود انکار می نمایند. تا یک نفر افغان است زنده افغانستان است».

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ